# افغانستان آزاد ـــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبــــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|

فقیر
۳۱ اگست ۲۰۲۳

## د افغانستان د اقتصاد تحلیل د کلاسیکانو په لاس کی دی !

جمهوری نظام چې یو متفرق، مفسد او ولس ته نه چندان محبوب، نظام و، د قطر د موافقې په پایله کې دوه کاله مخکې سقوط شو. تېر نظام د نفاق او فساد سره سره ځینې مثبت ټکی هم  لرل، یو یې د نجونو تعلیم او بل یی فردی او مطبوعاتی آزادی او مدنی ارزښتونو ته پاملرنه وه. امید و چې ورو ورو به اصلاح شی، خو ونشو. وروسته د اسلامی جمهوریت تر سقوط ډیرو داسې اټکل کاو چې یوناڅاپی به اقتصادی مشکلات زیات شی، خو اقتصادی ستونزې یو ناڅاپی نه، بلکې ورو ورو د رامنځته کیدو په حال کې دي. د نامتو اقتصاد پوه جیگلار له تحلیل او سایکل سره سم؛ د ټاکلو عواملو له مخې اقتصادی رونق یا بعضی وخت اقتصادی رکود، ژرنه، بلکې  دعامل تر پیښېدو ډیره موده وروسته را څرگندیږي.  له بده مرغه تشویش دادی چې د اوسني وضعیت اقتصادی ناوړه تاثیرات به شاید څه موده وروسته ولیدل شی.

ښه خبر دا دی چې له تیرو دوو کلونو راهیسې د سعر په وړاندې د ملی کرنسی توان څه ناڅه  ثابت پاتی دی، له بلې خوا داخلي مارکیټ کې انفلاسیون هم نه لیدل کیږي، مگر ستونزه دا ده چې د ژوند کیفیت غورځیدلی، د خلکو د خرید توان کم، وزگارتیا زیاته او د عامه خدماتو کیفیت او میسروالی ډیر محدود شوی دی.   د ډیر ژور بدلون سره سره بیا هم یو ډالر د ۷۸ افغانیو مقابل کې مبادله کیږي، دا نرخ د  څلورو کالو مخکی د مبادلی نرخ سره برابر دی، حال دا چې نور وضعیت په ښه حالت کې نه دی. د خلکو ناامیدی، بیکاری، تېښته(مهاجرت) او مرموز قتلونه زیات شوي، د نجونو پر مخ ښوونځی او پوهنتونونه تړلی او هر کور د یو وړوکی زندان ښه غوره کړې ده. اما په همدې حالت کې نړیوال بانک، یوشمیر امریکایی رسنی او په دې کې طلوع نیوز په خوشحالی سره اعلانونه کوي چې د افغانستان اقصاد ښه دی. البته د رقم او عدد له مخې د یو ډالر مقابل کی د ۷۸ افغانیو د مبادلی نرخ ډیر ښه حالت دی، علتونه یی دا دي:

له بهر څخه د مهاجرو او تبعیدی هیوادوالو ډیرې زیاتی مرستی چې له بهر څخه یې خپلو کورنیو او دوستانو سره کوي، هفته وار افغانستان ته د امریکی د میلیونونو ډالرو مرستې، د دولتی مصارفو کمښت( د جنگ درېدل)، د ادارو اوموسساتو د تشکیل تنقیص، د منی له موسم سره سم د تازه میوی اوسبو موسمی تولید اوصادراتو کی یې زیاتوالی (ختکې، پیاز، رومی، انگور، انځر...)، بازار کې د بانکنوټ کمی، دعمرې، تداوی، تحصیلاتو، سیاحت او نورو سفرونو کمښت، د ډېرو دسکرو زښت زیات استخراج او پلورل، دلاجوردو د استحراج پیل، د حاکمیت په گټه تبلیغات

او دي ته ورته عوامل دی، چي يو ډول کاذب ثبات يی رامنځته کړی دی، خو تعجب دا دی چی تبليغوونکي هغه معيار په نظر کي نيسی، چي هغه نور له ۱۹۶۰م. کال څخه وروسته له اعتبار لويدلی دی.

ميلادی شپيتمو کلو پوری د هيوادونو اقتصاد د دوی د سړی سر ګټي( PCI) له مخي ارزول کېد، خو ډير ژر اقتصاد پوهان ځير شول چي PCI په هيڅ صورت د رفاه او اقتصادی مثبت وضعيت ښودونکی ندی، بلکي د دې پر ځای د ژوند ستندرد مهم دی چی په دې کي لاندې ټکي مهم دي:

د هرو زرو تنو لپاره مهيا دوکتوران او طبی خدمات( دروغتون بسترونه)، مکفی غذا(غذايی مصونيت)، هرکور ته د څو ورځپاڼو رسيدل، يوې کورنی ته د مهيا کوټو شمير، د روغتيايی څښاک اوبو کفايت، د ميندو او ماشومانو دمړينونشتوالی، د عمراوسط کلونه او توقع کيدونکی عمر، دميندو صحی مراقبتونه، هر وګړی ته د مهيا کالوری مقدار، دنباتی پروتين او شحم په عوض د حيوانی شحم او پروتين مهياوالی، دپرمختيايی پروژود اجرا ډاډ، د سياسی ګوندونو شتون او د ټولنيزو غورځنګونو آزادی، دهيواد نړيوال پرستيژ، کورنيو ته مناسبی انرژيکی منبع(برېښنا، ګاز، سولر...)، د يخچال، کاليو مينځلو ماشين او ديترجنت موجوديت، اجتماعی آزاديګانی، دسفر او سياحت امکانات، غوره عامه خدمات(مخابرات، ترانسپورت، تفريح، تعليم....)،د بيکاری نشتوالی يا ډيره کمه بيکاري او داسي نور.

متاسفانه افغانستان داسي وضعيت کي دی چي د ژوند د مطلوب سټندرد معيارونه پکي نه ښکاري، خو ګزارشونه د هماغي کلاسيکي نظريي له مخي دي.

معاصر اقتصاد د خلکو او عامه اقتصاد لپاره نوي معيارونه ښودلي دي. له دې څخه بی خبري او سترګي پټول د ولسونو دوکه کول دي. په دې توګه واضحاً ښکاري چي د کورنيو وضعيت، دخلکو هيلي، ټولنيز ثبات، په حاکميت باور او نور علايم تت او ټولنه عملاً بحراني حالت کي ده. د نړيوال بانک تبليغوونکي دې د افغانستان په اړه کلاسيکه فکر له سره لرې کړي. دې بيچاره ولس ته دې هم لکه د نورو هيوادو په شان د ژوند د ستندرد معيار په پام کي ونيسي. معاصر دوران کي د خلکو دوکه کول او غولول آسانه ندي.